AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۰۵/۰۸

# زَړې خاطرې

په دې کوڅــــو کې مې ، خیالونه ورک دي
زما د مــــینې، تصـــویـــرونه ورک دي

دلته پرتې دي ، زمـــا زَړې خـــاطــرې
زمـا د ځـــوانی ، دلته خـــوبونه ورک دي

د دې ختـیـــنو ،دیـــوالـــونـــو لاندی
زمـا د کلـــــنو ، ارمـانـــونه ورک دي

په دې ورشـــو او منــــظرو ، د کلــــي
د تیر وخـــتونـــو ، بـــهارونه ورک دي

په دغــه خـــاوره او ایرو د دیــــــران
یو څو غمي، او څــو لالـــونه ورک دي

د خـــود فروشـــو ، اقتــــدار نشه کې
له تـکبره ، تـــرې ځـــانـــونه ورک دي

په دې بد رنګه، او ســر کش ماحــول کې
د محـبت مـونږ نه ، ښـــارونه ورک دي

د بـــی باکانـــو، د غفـــلت پایـــله کې
مونږ نه ، خواږه خواږه وختونه ورک دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ